مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۱۱/۰۷

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

۴۰۸مهبرخه

موږ پښتون میړه نه‌غواړم
پردي جنګونه پر سروړي، کونډه به‌شمه

لاس دې ترزنې لاندې مه‌ږده
نازک غومبوري به دې ګونځې ـ ګونځې‌شینه

خوب کې راځه، خوب کې به درشم
یاره په ویښه باندې ګران‌دي، دیدنونه

د لنډیو د دې برخې له‌پاره دا لاندې لنډې راټولې شوې دي:

له جدایي نه دې خوند اخلم
چې چېرته ځان‌ته‌شم، په چیغو وژاړمه

لاس دې ترزنې‌لاندې مه‌ږده
خدای به اسان‌کړي د ژوندون ستونزمن‌کارونه

لالیه بیا مې زړه راډک دی
لالیه بیا مې سر ته ایښې زنګنونه

لاس دې ترزنې لاندې مه‌ږده
نازک غومبوري به دې ګونځې ـ ګونځې‌شینه

ما ته به خدای صبرونه راکړي
نه به دې یاد کړم، نه به مخ درواړومه

مسافري، لویه جواري ده
نه به زما شي، نه به راوړي دولتونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

موري پښتون ميړه نه‌غواړم
پردي جنګونه پر سروړي، کونډه به‌شمه

بيا د باران په شپه رانه‌شي
ده پښو خاپونه دي کومچا ليدلي‌دينه

بارانه لس ورځې وريږه
نه مې غنم شته، نه د يار ديدن ته ځمه

په توروغرونو دې پناه‌کړم
په زړه کافرې موري نه دې يادېدمه

پرون دې څومره دبدبه وه
نن دې خيرني جامې ګورم، زړه مې چوينه

په بارانه کې مه‌راوځه
پيريان مې نيسي، چې لمده دې ووينمه

ته به له بل چا سره خاندې
زه دې تصويرته شپه په ويښه تېرومه

ته به راګورې، بل به يارکړم
په لمدوغوښو به دې اورولګومه

ته د څيلې په شپه کې راشه
يوشل‌ګزی‌کميس لرم، پټ به دې کمه

يارمې په سيند کې لاهو راغی
توتکی نه يم چې وزر پرې سيوری کړمه

ياري د سلو کالو لار ده
څوک يې چې لنډه پرې کوي، دووس به وينه

يار له کابل نه راروان دی
ما په تورخم ورته نيولي دي ګلونه

خوب کې راځه، خوب کې به درشم
ياره په ويښه باندې ګران‌دي، ديدنونه

خبر دې نه‌شته، نادرکه
زما نه ورکه ياره، څه درشوي‌دينه

څوک يې ديدن پسې ړنديږي
چا يې مرګي ته صدقې منلې‌دينه

څنګه نرۍ يې لکه لښته
کوم بختور به درنه غيږه تاووينه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

زه يې په غږ باندې مېئنه
په يار يوه خبره دوه‌ځلې کومه

زما په ګريوان کې دې ويښته دی
لاليه بوی يې حس کوم، په هوا يمه

نری نری باران وريږی
نریَ نری ژړا په تا پسې کومه

ابادہ ځمکه به زه څه کړم
چې زه برباده پر ابادہ ځمکه يمه

ستا جفاګانو چې ستي‌کړم
اروا مې لاړه، خالـي ستړه ودرېدمه

غم دې له ځانه سره يوسه
ما ته يې مه‌پرېږده، ژنده ـ کنه يې کړمه

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:
http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ